# د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

# د نـمونځ شوق

20 March 2026



(For Islamic Brothers)

هفته وار د سنتونو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سنتونو ډک بیان

پۀ 20 مارچ، کال 2026ء (بمطابق: 30 رمضان الکريم، کال 1447ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نـمونځ شوق

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د نيکانو خلقو يوه دُعا
- د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مزار مبارک برکت
- د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نـمونځ شوق
- پۀ سکون سره د نـمونځ کولو فضيلت

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بياناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُود شريف فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

كُلُّ كَلَامٍ لَا يُذْكَرُ اللهُ تَعَالٰى فِيْهِ فَيُبْدَاُ بِهٖ وَبِالصَّلَاةِ عَلَيَّ فَهُوَ اَقْطَعُ مَمْحُوْقٌ مِّنْ كُلِّ بَرَكَةٍ

**ترجمه:** هره هغه خبره کومه چې د **الله** پاک د ذِکر او په ما باندې د درود لوستلو نه بغير شروع کړے شي، هغه د هر برکت نه محرومه او خالي ده۔ (1)

مِرے حُضور کے صدقے کلامِ پاک میں بھی
خُدا نے بھیجی ہے آیت، درودِ پاک پڑھو
دیا ہے حکم خُدا نے یہ اپنے بندوں کو
پڑھو نبی پہ بہ کثرت درودِ پاک پڑھو
سب اولیاء و مشائخ تمام غوث و قطب
یہ کر گئے ہیں نصیحت درودِ پاک پڑھو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے۔ (2)

---

[1] ... القول البديع، الصلاة عليه عند افتتاح الكلام، صفحه:244۔

[2] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ پۀ اَدب به کښينم ❁ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## اَلوَداع! اَوَداع! ماهِ رمضان ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! يو څو ورځې مخکښينې خبره ده، د رمضان عاشقانو اِنتظار کولو چې رَمَضَانُ الْمُبَارَک راتلونکے دے ❁ تيارۍ کيدلې ❁ خپل وخت پۀ نيکو کښې د تيرولو د پاره خوش قِسمتو عاشقانِ رسول خپل شيډول (***Schedule***) جوړولو چې رَمَضَانُ الْمُبَارَک به څنګه تيروي؟ څکه د مخکښې نه هدفونه ټاکلے کيدل ❁ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د عاشقانو زړونه نا قلاره وو ❁ بيا د الله پاک پۀ کرم سره، د هغۀ پۀ فضل سره هغه ورځ راغله ❁ رُوح تازه کوونکے اواز پۀ غوږو شو: اُمبارک شئ---!! د رمضان مياشت وليدلے شوه ❁ پۀ دې اِعلان اوريدو زړونه ډير خوشحاله شول ❁ پۀ جوماتونو کښې سپرلے راغلو ❁ د تِلاوت شوق لرونکي د قرآنِ کريم پۀ تِلاوت کښې مصروفه شول ❁ پۀ پيشمنې او روژه ماتې کښې رش شو ❁ پۀ لږ وخت کښې د رحمت عشرې خپل برکتونه تقسيم کړل او تشريف يې يوړلو ❁ بيا د بخښنې عشره شروع شوه ❁ د خوش قِسمتو د رَبِّ رحمان او رحيم د دربار نه د بخښنې خيرات نصيب شو ❁ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک قدر دانو د بخښنې د عشرې برکتونه حاصل کړل ❁ بيا زر د بخښنې عشره هم تيره شوله ❁ د دې سره د دوزخ نه د ازادۍ عشره راغله ❁ اِعتکاف کوونکي پۀ ډلو ډلو جوماتونو ته راغلل ❁ د اِعتکاف خوندونه شروع شول ❁ آه! اوس د رَمَضَانُ

المُبَارَک میاشت د جُدایي پهٔ غم راکوي او رخصتیږي۔

| | |
|---|---|
| دیکھ کر چاند میں رو پڑا تھا | سامنے ہجر کا غم کھڑا تھا |
| جلد رخصت کا وقت آگیا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے |
| اشک آنکھوں سے اب بہ رہے ہیں | ہجر کا غم جو ہم سہ رہے ہیں |
| وہ دلِ غمزدہ جانتا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے |
| کر کے تقسیم بخشش کی اَسناد | آہ! رنجیدہ دِل کر کے تُوشاد |
| سب کو روتا ہوا چھوڑتا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے[1] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د نیکانو خلقو یوه دُعا

پهٔ دریمه سیپاره، د سورهٔ آلِ عمران پهٔ آیت نمبر 8 کښې دي چې عقلمند او نیکان خلق داسې دُعا کوي:

رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَیْتَنَا وَ هَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ۝۸

(پارہ:3، سورۂ آلِ عمران:8)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے زمونږه رَبه! تا مونږ ته هدایت عطا کړے دے، د دې نه پس زمونږه زړونه مهٔ کږوې او مونږ ته د خپلې خوا رحمت راکړې، بے شکه تهٔ لوئې ورکوونکے یې۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ میاشت کښې زړونه هدایت مومي ❁ د نـمونځ کوونکو شمیره زیاتیږي ❁ د تِلاوت کوونکو پهٔ شمیره کښې زیاتوالے راځي ❁ پهٔ تراویح ❁ اِعتکاف ❁ صدقه ❁ خیرات ❁ د مسلمانانو پهٔ خیر خواهۍ وغیره ډیر قِسمه څیزونو

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه:683 ملتقطًا۔

کنبې نسبتاً زياتوالے کيږي، يقيناً چې دا هُم هدايت دے، اوس مونږ له پکار دي چې مونږ هم د **الله** پاک په دربار کښې دُعا اوکړو او وخت په وخت د زړهٔ نه دا دعاګانې کوو چې يا **الله** پاکه! د رَمَضَانُ المُبَارَک په مياشت کښې مو د هدايت نُور نصيب شو، د نيکو جذبه زياته شوه، د نــمونځونو توفيق نصيب شو، اے زمونږه خوږه **الله** پاکه! په مونږ. باندې کرم اوکړې، کومې خطاګانې چې وشوې، په خوښه په نا خوښه چې کوم ګناهونه وشول هغه معاف کړې او د روژې په مياشت کښې چې کوم د عبادتونو رغبت زيات شوے، په دې کښې نوره ترقي او اِستقامت رانصيب کړې۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

چې د **الله** پاک په دربار کښې دُعاګانې کوو نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم! کرم به کيږي، په نيکو باندې به مو اِستقامت هم نصيب شي۔

| | |
|---|---|
| عمل کا ہو جذبہ عطا یا الٰہی! | گناہوں سے مجھ کو بچا یا الٰہی! |
| میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یا الٰہی![1] |

## د اِمامِ بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه مُختصر تعارف

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په وړومبي شوّال شريف يعني د اختر په ورځ د محدِيثنو د اِمام، اِمام محمد بن اسماعيل بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه عُرس دے۔ اِمامِ بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه ډير لوئي ولي الله، ډير لوئي عالِمِ دِين او خاص طور د حديث د عِلم ډير لوئي اِمام دے۔ د حديثِ پاک د ټولو نه معتبره او مشهوره مجموعه بُخاري شريف هم هغوئي راجمع کړې ده، اِمامِ بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په ديارلسم شوّال شريف کال 194 هجري په بُخارا شريف کښې دُنيا ته تشريف راوړلو [2] او په وړومبي شوّال شريف د 62 کالو په عمر کښې په کال 256 هجري

---

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحه:102۔

[2] ...ہدایۃُ السَّارِی، صفحه:49۔

کښې يــې د دې فاني دُنيا نه رحلت وفرمائيلو- [1] د هغوئې مزار مبارک د سمر قند سره نزدې پۀ " خَرتَنک " نومې کلي کښې دے- [2]

اِمامِ بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ټول عمر د عِلمِ حديث ښه ډير خدمت کړے، اِمامِ بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ډير عبادت گزار ، زاهد، او متقي وو، د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د وفات کيدو نه پس تر ډيرې مودې پورې د هغوئې رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د قبر مبارک نه د مشکو نه هم زياته ښه خوشبوئي راتلله، خلقو به د تبرک (يعنې د برکت حاصلولو د پاره) د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د مزار مبارک خاوره وړله- [3]

## د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د مزار مبارک برکت

د اُزبکستان يو ډير زوړ او تاريخي ښار دے: سمر قند-تقريبا زر [1000] کاله مخکښينی خبره ده، پۀ سمر قند کښې سخته سوکړه راغله، بارانونه وۀ نۀ شول، فصلونه وچ شول او د غلې کمے پيدا شو، دې وجهې نه خلق د ډيرې پريشانئ سره مخ شول- خلقو څو ځل د اِستِسقَاء نــمونځ (يعنې د **الله** پاک نه د باران غوښتو د پاره خاص نــمونځ) هم اوکړو- دعاګانې يــې هم اوکړې خو باران نۀ کيدو او نۀ وشو-

د پريشانئ پۀ دې سختو ورځو کښې يوه ورځ يو نيک ګس د ښار د قاضي صاحب خوا له تشريف يوړلو او وه يــې وئيل: قاضي صاحبه! که تاسو يــې اوريدل غواړئ نو زما يوه رائے ده- قاضي صاحب وفرمائيل- آؤ ! ضرور يــې اِرشاد کړئ--!! (هغه نيک ګس ووئيل: قاضي صاحبه! د سمر قند سره نزدې د **الله** پاک د نيک او بزرګ اِنسان حضرت اِمام محمد بن

---

[1]...ہدايةُ السَّارِى، صفحه:179-
[2]...ہدايةُ السَّارِى، صفحه:177-
[3]...ہدايةُ السَّارِى، صفحه:178-

اِسماعيل بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار مبارک دے)، تاسو او ستاسو سره د ښار خلق د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار مبارک ته تشريف يوسئ او هلته چې لاړ شئ نو د **الله** پاک په دربار کښې د باران د پاره سوال اوکړئ۔ د **الله** پاک د دربار نه ډير لوئي اُميد دے چې **الله** پاک به د دې خپل نيک بنده وسيله قبوله کړي او د هغوئي په وسيله به د رحمت باران اوکړي۔

د ښار قاضي صاحب هم اَلْحَمْدُ لِلّٰه! عاشقِ رسول او عاشقِ اولياء وو، د هغه نيک اِنسان ښکلې مشوره چې يــې واوريدله نو د خوشحالئ نه يــې ووئيل: نِعْمَ مَارَاَيْتَ ستاسو رائے څومره ښه ده--! يعني قاضي صاحب د ښار والا د ځان سره د کولو او د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار مبارک ته د حاضريدو او د هغوئي په وسيله د باران د دُعا کولو د پاره راضي شو۔

د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار مبارک د سمر قند نه يو څو کلوميټره لرې دے، نو قاضي صاحب د سمر قند د خلقو سره د قافلې په شکل کښې د اِمام محمد بن اِسماعيل بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار مبارک ته حاضر شو، په ژړا ژړا يــې د **الله** پاک په دربار کښې دعاګانې اوکړې، توبه او اِستغفار يــې اوکړو او د **الله** پاک په دربار کښې يــې د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وسيله وړاندې کړه۔

سُبْحٰنَ الله! د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د **الله** پاک په دربار کښې مقبوليت وو چې لا د سمر قند خلق په دعاګانو کښې مصروف وو چې وريځې راغلې او پرله پسې د 7 ورځو پورې باران وشو، د دې پورې چې سمر قند والا د 7 ورځو پورې هلته په **خَرتَنګ** نومي کلي کښې ايسار شول، په هغوئي کښې څوک هم د ډير باران په وجه خپل کور ته وه نۀ رسيدو۔ (1)

---

[1]... هدايةُ السَّارِى، صفحه:181۔

ہو چکے ہوں گے جہاں میں جس قدر بھی اولیا

اُن پہ، ہر اِک اُن کے خدمت گار پر لاکھوں سلام(1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## وسیله لټوئ!

اے د خوږ نبي صلی اللہ علیہ والہ وسلم عاشقانو! د دې واقعې نه معلومه شوه چې ❁ د اولیائے کرامو مزارونو ته حاضریدل ❁ هغوئي ته په نزدې کیدو، د هغوئي په وسیله د الله پاک په دربار کښې دعاګانې کول، سوالونه کول ❁ د خپلو مصیبتونو، پریشانو د حل کولو د پاره مزارونو ته حاضریدل ❁ او خپل مرادونه حاصلول وغیره څۀ نوې طریقه نۀ ده بلکې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دا د ېخوانو مسلمانانو معمول دے- مونږ له هم پکار دي چې د نیکانو خلقو مزارونو ته حاضري کوو، د هغوئي په وسیله دعاګانې هم کوو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د الله پاک رحمت به مو ضرور نصیب کیږي- الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ ابْتَغُوْۤا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ<br>(پارہ:6، سورۂ مائدہ:35) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ! د الله نه ویریږئ او د هغۀ طرف ته وسیله ولټوئ- |

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رحمۃ اللہ علیہ د دې آیت لاندې فرمائي: د دې نه معلومه شوه چې د ژوندو بزرګانو سره د ملاقات د پاره سفر کول، د وفات شوو بزرګانو د مزارونو د پاره سفر او حاضري کول، هلته د هغوئي په وسیله د الله پاک نه سوال کول، دا هر څۀ تول ډیر بهتر دي- د دې ټولو سفرونو مآخذ

[1] … وسائلِ بخشش، صفحه:602۔

(يعنې دليل) دا آيت دے ولې چې دا ټولې طريقې هم وسيلې لټول دي- [1]

سیہ کاروں کی کیا گنتی کہ دَرگاہِ الٰہی میں | وسیلہ ڈھونڈتے ہیں حضرتِ موسیٰ مُحَمَّد کا
بلاوَصلِ نبی، وَصلِ الٰہی غیر ممکن ہے | خدا کے گھر پہنچنے کو ہے دروازہ مُحَمَّد کا[2]

## د اِمامِ بُخاري رحمۃ اللہ علیہ د قرآن سره محبت

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ چې د اِمامِ بُخاري رحمۃ اللہ علیہ سيرت مبارک لولو نو معلوميږي چې د هغوئي (1): د قرآن سره هم بے حده محبت وو او (2): د نـمونځ سره يـې هم ډير شَغَف (شوق) وو- د اِمامِ بُخاري رحمۃ اللہ علیہ معمول وو چې پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې به يـې يو ځل پۀ تراويح کښې د قرآنِ پاک ختم کولو، بيا به يـې د تهجدو پۀ نـمونځ کښې پۀ دريو شپو کښې يو ځل د قرآنِ پاک ختم کولو او د پيشمني نه د د روژه ماتې پورې به يـې هره ورځ د قرآنِ پاک يو ختم کولو، داسې که به رَمَضَانُ الْمُبَارَک د 30 ورځو وو نو اِمامِ بُخاري رحمۃ اللہ علیہ به پۀ يوه مياشت کښې 41 ځل د قرآنِ پاک پۀ ختم کولو کښې کاميابيدلو- [3]

سُبْحٰنَ الله! غور اوکړئ چې د قرآنِ کريم د تلاوت سره يـې څنګه محبت دے- پۀ يوه مياشت کښې به يـې 41 کرته د قرآنِ کريم ختم کولو- مونږ له هم د تِلاوت شوق زياتول پکار دي- نيت اوکړئ چې روزانه به څۀ نا څۀ تلاوت لازمي کوو او کم از کم د دريو آيتونو تلاوت ضرور کوئ! د دې سره ترجمه او تفسير هم لولئ! **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

---

[1] … تفسير نعيمى، پارہ:6، سورۂ مائدہ، زيرِ آيت:35، جلد:6، صفحہ:397 ملتقطًا-

[2] … قبالۂ بخشش، صفحہ:51و 53 ملتقطاً-

[3] … ہدايۃُ السَّارِى، صفحہ: 72 مفصلاً-

## د كتاب ليكلو نا اشنا انداز

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د اِمامِ بُخاري رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه د نـمونځونو سره هم ډېر محبت وو، فرض او واجب خو به هغوئي ضرور ادا كول، د دې سره سره به يـې ښه ډېر نفلونه هم كول- د اِمامِ بُخاري رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه يو ډېر ښكلے انداز دے، د هغوئي عادت وو چې نـمونځ به يـې د خپل كار حصه جوړوله- مثلاً د اِمامِ بُخاري رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه يو كتاب دے: تاريخِ كبير- څوک چې حديثونه مبارک روايت كوي، په دې كتاب كښې اِمامِ بُخاري رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه د هغوئي حالات وغيره ليكلي دي- دا كتاب اِمامِ بُخاري د رِيَاضُ الـجَنَّة سره په خواه كښې ليكلے دے- (1)

سُبۡحٰنَ اللهُ! داسې چې د هغوئي كوم مشهور كتاب دے: بُخاري شريف- د دې مبارک كتاب د ليكلو انداز خو ډېر با ادبه، د عشق او محبت نه ډک وو- اِمامِ بُخاري رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه بُخاري شريف په 16 كالو كښې مكمل كړے، (2) په دې كښې تقريبا 7 زره 500 سوه احاديث مبارک دي- د ليكلو انداز اِمامِ بُخاري رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه دا اِختيار كړے وو چې د هر يو حديثِ پاک د ليكلو نه مخكښې به يـې تازه غُسل كولو، بيا به يـې 2 ركعته نفل كول، د دې نه پس به يـې حديث شريف ليكلو- (3)

الله! الله---! د اِمامِ بُخاري رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه عشقِ رسول ته وګورئ! حديثِ پاک دے، د دواړو جهانو د سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خُله مباركه ادا كړے شوي مقدس، مبارک، منور الفاظ دي، څكه اِمامِ بُخاري رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه د دې د ليكلو د پاره د عشق تقاضې پوره كړې، د هر يو حديثِ پاک د ليكلو نه مخكښې به يـې تازه غسل كولو،په 2 ركعته نفل كولو سره

---

1 ... سير اعلام النبلا، رقم:2136، ابو عبد الله البخارى...الخ، جلد:10، صفحه:284-

2 ... سير اعلام النبلا، رقم:2136، ابو عبد الله البخارى...الخ، جلد:10، صفحه:284-

3 ... سير اعلام النبلا، رقم:2136، ابو عبد الله البخارى...الخ، جلد:10، صفحه:282و283-

به يـې زړۀ له غسل ورکولو، چې پاک صفا به شو نو حديثِ پاک به يـې وليکلو-

جِ دُھُوَاں مُنْه عِطْرُ گُلَابُوْں دَمْ دَمْ وَارُ ہَزَارَاں

ہُوْوَاں نَاهُ اَجِ نَامُ لَیُوْں دِے لَائِق شَاهِ اَبْرَارَاں

وضاحت: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! کۀ زۀ خپله خُله پۀ زرګونو ځل پۀ مشکو او پۀ ګلاب وينځم نو بيا هُم ستاسو د نوم مبارک د اخستو لائق نۀ شم جوړيدے.

## نيکۍ د کارونو برخه جوړه کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پۀ دې ښکلي انداز کښې چې کوم عشقِ رسول ښکاري، هغه خو هسې هم دے، د دې سره سره مونږ ته دا سبق ميلاوېږي چې نيکۍ خاص طور نـمونځونه د خپلو کارونو برخه جوړول پـکار دي- وګورئ چې مونږ د کور نه دفتر يا دکان ته ځو، پۀ دې کښې مونږ څومره کارونه کوو: ❀ د ګاډي چابي راخستل ❀ ګاډے راويستل ❀ صفا کول ❀ تيل چيک کول ❀ دکان ته تلل ❀ تالا پرانستل ❀ سامان کتل ❀ خوارۀ وارۀ څيزونه راټولول--- وغيره وغيره- داسې غور کوئ! زمونږ پۀ هر يو کار کښې دننه ډير کارونه وي او مونږ هر وخت دغه ټول کارونه کوو هم- که مونږ ځينې نيکۍ هم د دې کارونو برخه جوړه کړو نو څنګه چې دا کارونه کيږي، داسې به نيکۍ هم کيږي- مثلاً ❀ پوخ نيت اوکړئ چې دُکان ته پۀ رسيدو به د ټولو نه مخکښې 2 رکعته نفل کووم- اوس چې د دکان د پاره څنګه تالا پرانستل يو کار دے، داسې 2 نفلونه هم يو کار شو- بس پۀ دې باندې ضرور عمل اوکړئ! ❀ هر ځل به د ګلې د پرانستو نه مخکښې يو ځل درودِ پاک لولم ❀ هر ځل به پۀ ګاډي کښې چې څنګه کښينم نو بِسمِ الله به لولم، 5 کرته به درودِ پاک لولم ❀ هر ځل چې څنګه کور ته ننوځم نو سُورۀ اِخلاص به لولم- داسې چې څنګه مونږه د امروزه

(*Routine*) کارونه کوو، نیکۍ خاص طور ځۀ نا ځۀ نفلونه د دې کارونو سره وتړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! نیکۍ کول به درته هم اسان وي، اِستقامت به مو هم نصیب کیږي او که اللّٰه پاک وغوښتل نو د نیکو پۀ برکت سره به مو کارونه هم کیږي۔

## د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نـمونځ سره شوق

یو ځل اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چرته پۀ دعوت کښې شریک وو، د دعوت پۀ وخت ورته لږ وخت میلاؤ شو نو هغوئي نفلونه شروع کړل! ډیر پۀ عاجزۍ او انکسارۍ سره هغوئي نـمونځ اوکړو، د سلام ګرځولو نه پس یـې چا ته وفرمائیل: دا لږ وګورئ چې زما قمیص ته ځۀ څیز راننوتے دے؟ چې وه یـې کتل نو یو زهریلا قِسم له حشرات[خزنده] وو کوم چې 16 یا 17 ځائے هغوئي چیچلے وو۔ وجود مبارک یـې هم ځائے پۀ ځائے پړسیدلے وو۔ خلقو عرض اوکړو: کله چې دې پۀ وړومبي ځل وچیچلې نو تاسو هغه وخت نـمونځ ولې مات نۀ کړو؟ وه یـې فرمائیل: ما یو سُورت شروع کړے وو، زړۀ مې غوښتل چې هغه پوره شي (نو بیا به سلام وګرځوم)۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږ‌و او محترمو اِسلامي ورونړو! غور اوکړئ چې د بے نیازۍ څومره ښکلے شان دے، زهریلا حشرات[خزنده] یـې چیچي، تکلیف ورته رسیږي، وجود یـې پړسیږي خو اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نـمونځونو عاشق هم وو، د قرآن عاشق هم وو، تکلیف یـې برداشت کولو خو نـمونځ او تلاوت ودرول یـې ښه نۀ ګڼل۔

کاش چې زمونږ هم د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ شان فیضان نصیب شي، ګنې نو زمونږ حال خو د وئیلو نۀ دے، افسوس چې زمونږ پۀ نـمونځ کښې زړۀ نۀ لګي، وړومبے خو ډیر داسې خلق دي کوم چې هډو نـمونځ نۀ کوي، تاسو اوس حالاتو ته وګورئ چې د اختر پۀ نـمونځ کښې پۀ جومات کښې اخري اِجتماع وي، ماسپښین د نـمونځ د پاره

---

1 … تاریخ بغداد، رقم:424، محمد بن اسماعیل…البخاری، جلد:2، صفحه:13۔

نـمونځ کوونکـي په لټولو هم نه میلاوېږي، ټول کال غائب وي، راتلونکـي کال کښې هُم په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې بیا جومات ته راځي- بس الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي- یقین اوکړئ چې نـمونځ نه کول څومره لویه ګناه ده، دومره لویه ګناه ده چې مونږ د دې د سخت والي اندازه هم نه شو لګولے-

## د بے نـمانځه مذمت[غندنه]

❁ الله پاک فرمائي:

اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾

(پارہ:16، سورۂ مریم:59)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: کومو چې نـمونځونه ضائع کړل او د خپلو خواهشاتو تابعداري یـې اوکړه نو نزدې ده چې هغوئي به د دوزخ خوفناکې کندې غي سره میلاوېږي-

اَللّٰهُ اَكْبَر! معلومه شوه چې څوک نـمونځونه نه کوي، هغه ضائع کوي او د نفس په خواهشاتو پسې ځي، د هغهٔ سزا د دوزخ غي نومې خطرناکه کنده ده- اَلاَمَانُ وَالحَفِيظ---!! ❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د چا چې نـمونځ نشته، د هغه په اِسلام کښې هیڅ برخه نشته- [(1)] ❁ په یو بل حدیثِ پاک کښې دي: څوک چې قصداً عمداً یو نـمونځ پرېږدي، د هغهٔ نوم د دوزخ په هُغه دروازه باندې ولیکلے شي په کومه باندې چې به هغه دوزخ ته داخلیږي- [(2)] ❁ روایت دے: الله پاک خپل نبي حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي وفرمائیله: اے داؤده! بني اسرائیلو ته ووایه! چا چې یو نـمونځ هم پرېښودو، د قیامت په ورځ به زهٔ په هغهٔ باندې غضب فرمایم- [(3)]

---

[1]... مسندِ بزّار، جلد:15، صفحه:176، حديث:8539-

[2]... حلية الاولياء، جلد:7، صفحه:299، حديث:10590-

[3]... الزهر الفائح، آفات الغفلة، صفحه:27-

پڑھتے رہو نماز تو جنّت میں جاؤ گے | چھوڑو گے گر نماز جہنّم میں جاؤ گے

## نـمونځ په يو حالت کښې هم معاف نهٔ دے

هسې مونږ هم ډير عجيبه خلق يو ❀ چې اختر راشي نو مونږ په نـمونځونو کښې ناراستي کوو ❀ پهٔ کور کښې چې وړوکي شان دستوره وي نو نـمونځونه رانه قضا کيږي ❀ اوس خو مَعَاذَالله! حالت داسې دے چې پهٔ کور کښې مړے وشي نو خلق نـمونځونه قضا کوي ❀ د مړي په لـمبولو کښې مصروف ووم ❀ پهٔ کفن راوړو، جوړولو کښې مصروف ووم ❀ قبر مې کنستو ❀ د جنازې د پاره راباندې ناوخته کيدو، ځکه مې نـمونځ اونـکړو، جَمعه قضا شوه بلکې د لرې او نزدې نه چې کوم ميلمانه راغلي وي، هغوئي پهٔ دَرو، چټايانو باندې وزګار ناست وي او بيا هم نـمونځ نهٔ کوي- حالانکې مړي له راغلي دي، جنازه يې کړې ده، اوس اوس يې پهٔ خپلو لاسونو باندې مړے قبر ته کوز کړے دے، د دې باوجود يې د زړهٔ نه پردې نهٔ دي لرې شوې- يقين اوکړئ چې خومره د بے حِسی خبره ده-

پهٔ پينځمه سيپاره، د سُورۂ نِسَآء پهٔ آيت: 102 کښې د ويرې د نـمونځ طريقه بيان شوې ده، يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم پهٔ غزا [يعني غزوه] کښې وو، کله چې يې د کافرانو سره جنګ وو، هُغه وخت د مازيګر د نـمونځ وخت راغلو، اوس نـمونځ څنګه کول دي؟ يعني عين د جنګ پهٔ حالت کښې د غير مسلمو لښکر مخې ته موجود دے، پهٔ جنګ کښې به نـمونځ څنګه کوي؟ د دې طريقه د سُورۂ نِسَآء، پهٔ آيت: 102 کښې اِرشاد شوه- د دې نه پس **الله** پاک وفرمائيل:

اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴿۱۰۳﴾ (پاره:15، سورۂ نِسَآء: 103)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بے شکه نـمونځ پهٔ مسلمانانو باندې پهٔ مقرر شوي وخت کښې فرض دے-

اَللّٰهُ اَكْبَر! د دواړو جهانو تاجدار صلی اللہ علیہ والہ وسلم او په ټولو اُمتونو کښې د ټولو نه د افضل اُمت د ټولو نه افضل خلق یعني صحابهٔ کرام رضی اللہ عنہم، هغوئي ته هم عین د جنګ په وخت کښې په نـمونځ کښې د ناواخته کولو اجازت میلاؤ نهٔ شو، د جنګ په میدان کښې هم د نـمونځ کولو بلکې د جَمعې کولو حکم ورکړے شو او مونږ یو--!! مَعَاذَالله! هسې بے هیڅه هم نـمونځونه قضا کوو- الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

گھپ اندھیری قبر میں جب جائے گا
بے عمل! بے انتہا گھبرائے گا
کام مال و زر نہیں کچھ آئے گا
غافل انساں یاد رکھ پچھتائے گا
سانپ بچھّو قبر میں گر آ گئے!
کیا کرے گا بے عمل گر چھا گئے!

## د نـمونځ د آدابو خیال ساتئ!

خیر! ما عرض کولو، وړومبے خو نـمونځ کوونکي ډېر کم دي، بیا یې چې څوک کوي، په هغوئي کښې هم یوه شمیره د داسې خلقو ده کوم چې د نـمونځ د آدابو خیال نهٔ ساتي ❀ په توجه سره نـمونځ نهٔ کوي ❀ اخوا دیخوا کتل ❀ بیا بیا ځان ګرول ❀ کله د ویښتو، جامو او ږیرې وغیره سره لوبې کول وغیره پته نهٔ لګي چې څنګه څنګه حرکتونه کوي- یقیناً چې دا انداز د الله پاک د دربار د آدابو خلاف دے، کله چې اِنسان د خپل مالِک په دربار کښې ولاړ وي، بیا پکار دي چې مکمل په سکون سره وي، د زړهٔ د کیفیاتو نه واخله د ظاهري اندامونو پورې ټول اِنسان د عاجزۍ نمونه، ډېر په ادب سره ودریږي-

## په نـمونځ کښې د اخوا دیخوا کتلو سره د رحمت ګرځیدل

حضرت ابو ذَر رضی اللہ عنہ بیانوي: رسولِ انور، محبوبِ رَبِّ اکبر صلی اللہ علیہ والہ وسلم ارشاد

فرمائیلے دے: د **الله** پاک رحمت د نـمونځ کوونکي طرف ته متوجه وي د څو پورې چې هغه اخوا دېخوا نهٔ ګوري، کله چې اخوا دېخوا ګوري نو د **الله** پاک رحمت هم د هغهٔ نه ګرځي۔ (1)

## زما طرف ته توجه اوکړه!

حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ بیانوي چې د دواړو جهانو د سرور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کله چې اِنسان د نـمونځ د پاره ودرېږي نو هغه د **الله** پاک پهٔ دربار کښې حاضر شي، کله چې هغه اخوا دېخوا ګوري نو **الله** پاک اِرشاد فرمائي: تهٔ د چا طرف ته ګورې؟ آيا زما نه درته څوک بهتر پهٔ نظر راځي؟ اے اِبنِ آدمه (يعني اے اِنسانه!) زما طرف ته توجه اوکړه! زهٔ د هغهٔ نه بهتر يم، تهٔ چې د چا طرف ته ګورې۔ (2)

## پهٔ نـمونځ کښې د تادۍ کولو نقصانونه

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خادِم، حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې د **الله** پاک د خوږ نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې نـمونځونه پهٔ خپل وخت باندې ادا کړي او د نـمونځ د پاره پهٔ صحيح طريقه اودس اوکړي او د دې قيام، خشوع، رکوع او سجدې پوره کړي نو د هغهٔ نـمونځ سپين او روښانه پهٔ دې وئيلو سره ووځي چې: **الله** پاک دې ستا حفاظت اوکړي لکه څنګه چې تا زما حفاظت اوکړو او څوک چې نـمونځ بے وخته ادا کړي او د هغه د پاره کامله (يعني پهٔ ښه طريقه) اودس اونکړي او د دې خشوع، رکوع او سجدې پوره نهٔ کړي نو هُغه نـمونځ تور تيارهٔ پهٔ دې وئيلو سره ووځي: **الله** پاک دې تا ضائع کړي لکه څنګه چې تا زهٔ ضائع کړم۔ د دې پورې چې **الله** پاک چې چرته غواړي (نـمونځ) هُغه ځائے ته ورسيږي، بيا هغه د

[1]... ابو داود، کتاب الصلاة، باب الالتفات في الصلاة، صفحه:153، حديث:909۔

[2]... مسند بزار، جلد:16، صفحه:200، حديث:9333۔

شليدلي کپړې پهٔ شان راغونډ کړے شي او د هٔغه نـمونځ کوونکي پهٔ مخ باندې ور ويشتلے شي۔ (1)

اَللّٰهُ اَكْبَر! اَللّٰهُ اَكْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور اوکړئ، دلته چې څنګه حالات دي، پهٔ دُنيا کښې دومره مصروفه شوي يو چې د نـمونځ راسره هډو فِکر نهٔ وي--!! څوک چې نـمونځونه کوي، پهٔ هغوئي کښې هم د ډيرو حالات داسې دي چې بس پهٔ منډه منډه جومات ته راشي، چې هر څنګه وي اودس اوکړي، داسې ترينه د اودس د اوبو څاڅکي څڅيږي، لستوڼي يـې د سنګلو پورې رانغښتي وي، پهٔ تادی راشي، نـمونځ شروع کړي، بيا د نـمونځ کولو د پاره خو مونږ له سُورت هم يو راځي، سُورۂ اِخلاص-- د دې نه علاوه مو د نورو سورتونو د زده کولو هډو ذِهن نهٔ جوړيږي-- بس ټول رکعتونه پهٔ دغه يو سُورت زر زر اوکړي، رکوع پوره وشوه که نهٔ، سجده پوره وشوه که نهٔ، د رکوع نه لا نيغ ولاړ هم نهٔ وي چې د سجدې د پاره ښکته کيدل شروع شي، د وړومبۍ سجدې نه لا راپاڅيدلے نيغ ناست نهٔ وي چې بلې سجدې له لاړ شي-- داسې بس زر زر که هر څنګه وي نـمونځ اوکړي او لاړ شي--!! دا زمونږ د نـمونځونو انداز دے او مونږ حديثِ پاک واوريدو، کوم اِنسان چې د نـمونځ رکوع او سجدې نهٔ پوره کوي، نـمونځ وائي: لکه څنګه چې تا زهٔ ضائع کړم، **اللّٰه** پاک دې تا هم داسې ضائع کړي۔

د **اللّٰه** پاک پناه! د **اللّٰه** پاک پناه--!! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور خو اوکړئ چې زمونږه نـمونځ هٔغه عظيم الشان عبادت وو کوم چې زمونږ کردار سمولو، کوم چې مونږ د ګناهونو د ګند نه پاکولو، کوم چې مونږ د بدو او د بے حيايئ نه بچ کولو، چې هٔغه نـمونځ هم مونږ ته د ضائع کيدو ښيرې کوي نو ووايئ چې بيا به زمونږ سره څهٔ پاتې کيږي---؟ مونږ به څنګه ټيک کيږو؟ زمونږه حالات به څنګه ښه کيږي؟ پهٔ رزق کښې به برکت د

[1]… معجم اوسط، جلد:2، صفحه:227، حديث:3095۔

چرته نۀ راځي؟ د بیمارو نه به حفاظت څنګه کیږي---؟ دا خو د دُنیا خبره ده، د داسې نــمونځونو سره به مونږ د **الله** پاک پۀ دربار کښې څنګه حاضریږو----؟

ځکه زما **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** نــمونځ ډیر اهم عبادت دے، لهذا باقاعده وخت اوباسئ! نــمونځ پوره پۀ خیال سره ادا کوئ! پۀ پوره سکون سره، د سُنّتو او د مستحباتو پۀ خیال ساتلو سره اودس اوکړئ! بیا ډیر پۀ ښه طریقه، د عزت سره، د زړۀ پۀ عاجزۍ، خومره به ښه وي چې د **الله** پاک د ویرې نه پۀ لړزیدو جومات ته راشو او پۀ صف کښې ودریږو! بیا پۀ پوره توجه او پوره سکون سره نــمونځ اوکړو! تاسو وګورئ چې اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیْم! پۀ یو څو ورځو کښې به د زړۀ خیرے لرې کیدل شروع شي، پۀ زړۀ کښې به نُور پیدا کیدل شروع شي، بیا به مو اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیْم! هغه برکتونه نصیب شي چې دُنیا او اخرت به مو ښه شي۔

## پۀ سکون سره د نــمونځ کولو فضیلت

**حدیثِ پاک** واورئ! د حضرت عُباده بن صَامِت رضی اللہُ عنہ نه روایت دے چې د نبي رحمت، شفیعِ اُمت صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمان مبارک دے: کوم ګس چې پۀ ښه طریقه اودس اوکړي، بیا د نــمونځ د پاره ودریږي، د هغې رکوع، سجدې او قراءَت مکمل کړي نو نــمونځ وائي: **الله** پاک دې ستا حفاظت اوکړي لکه څنګه چې تا زما حفاظت اوکړو۔ بیا هغه نــمونځ د اسمان طرف ته یوړے شي او د هغۀ د پاره ځلا او نُور شي، بس د هغۀ د پاره د اسمان دروازې پرانستے شي، د دې پورې چې هغه د **الله** پاک پۀ دربار کښې پیش کړے شي او هغه د هغه نــمونځ کوونکي شفاعت کوي۔ (1)

ہوں میری ٹوٹی پھوٹی نمازیں خُدا قبول

اُن دو کا صدقہ جن کو کہا شہ نے میرے پھول

**وضاحت:** یعني اِمامِ حَسَن او حُسَین رضی اللہُ عنہما کومو ته چې سرکارِ عالي وقار صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم

1 … شُعَبُ الْاِیْمَان، جلد:3، صفحه:144، حدیث:3140۔

رَیحَانَتِیْ یعنې زما ګلونه فرمائیلي دي، اے **اللّٰه** پاکه! د هغوئي پۀ وسیله زما مات ګوډ نـمونځونه قبول کړې-

**اللّٰه** پاک دې زمونږه ټولو ته نصیب کړي- نـمونځونه کوئ! ضرور یـې کوئ! وخت ورله اوباسئ او کوئ! د پوره خیال سره یـې کوئ! د رَبّ **محبت** پۀ زړۀ کښې پۀ کښېنولو سره، **اللّٰه** پاک مو وینې، پۀ دې خیال کولو سره یـې ادا کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! دُنیا او اخرت دواړه به مو ښه شي-

| | |
|---|---|
| نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ | رب سے دلوائے گی تم کو جنت نَماز |
| بھائیو! گر خُدا کی رِضا چاہیے | آپ پڑھتے رہیں باجماعت نَماز |
| آؤ مسجد میں جُھک جاؤ رب کے حُضُور | تم کو دلوائے گی حق سے رِفعَت نَماز[1] |

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد**

## د دعوتِ اِسلامي د یوې شعبې تعارف: آئي ټي ډیپارټمنټ

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د آئي ټي ټیکنالوجۍ پۀ ذریعه د عاشقانِ رسول دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي خپلې فریضې تر سره کوي- پۀ دې باره کښې د دعوتِ اِسلامي باقاعده یوه شعبه د آئي ټي ډیپارټمنټ پۀ نوم باندې موجوده ده- چرته چې د خپلې شعبې پروفیشنلز د مختلف ویب سائټس او ایپلي کیشنز پۀ ذریعه پۀ عِلمِ دِین عام کولو کښې مصروفه دي-

د دې شعبې لاندې اوسه پورې 40 ویب سائټس ❁ 32 موبائل ایپلي کیشنز جاري کړے شوي دي، یو ایپلي کیشن دعوتِ اِسلامي ډیجیټل سروس ***Dawateislami Digital Services*** هم دے، د دې پۀ ذریعه چې تاسو د دعوتِ اِسلامي ټول سوشل میډیا پلیټ

[1]... وسائلِ فردوس، صفحه:22 ملتقطًا-

فارمز او ویب سائټس اِستعمالولے شي۔

## لیـلةُ الـجائِزه (د اختر پهٔ شپه) کښې د عبادت ترغیب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! **اللّٰه** پاک که یو طرف ته مونږ پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د لیـلةُ الـقدر پهٔ شان عظیمه شپه راعطا کړې ده نو بل طرف ته یـې د دې مبارکې میاشت نه فوراً پس د لیـلةُ الـجائِزه یعنې د اِنعام شپه هم راعطا کړې ده (د اختر شپې ته لیـلةُ الـجائِزه وائي) ❁ دا شپه د **اللّٰه** پاک د رحمتونو ❁ د بخښنې شپه ده ❁ کوم اِنسان چې پهٔ دې شپه باندې د **اللّٰه** پاک عبادت کوي **اللّٰه** پاک د هغهٔ د پاره جنَّت واجب کوي۔ (1) ❁ ټولو عاشقانِ رسول خاص طور اعتکاف کوونکو ته پکار دي چې دا شپه پهٔ جوماتونو کښې د **اللّٰه** پاک پهٔ عبادت کښې تیره کړي حضرت ابراهیم نَخَعي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د دِین بزرګانو رحمۃ اللہ علیہم به د اِعتِکاف کوونکو د پاره دا خبره خوښوله چې د وړوکي اختر شپه هم پهٔ جومات کښې تیره کړي۔ (2)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژو ترغیب

اے د خوږ نبي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم عاشقانو! د رَمَضَانُ المُبَارَک نه پس شوال شریف راځي پهٔ دې میاشت کښې خوش قِسمته مسلمانان د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژونو نیولو سعادت حاصلوي۔ ❁ پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: چا چې د رمضان روژې ونیولې، بیا یـې 6 ورځې پهٔ شوال کښې روژې ونیولې نو د ګناهونو نه داسې ووتلو لکه چې هم نن د مور د خیټې نه پیدا شوے وي۔ (3) ❁ خَلیلِ مِلَّت مفتي محمد خلیل خان برکاتي رحمۃ اللہ علیہ

---

[1]... الترغیب و الترهیب، کتاب العیدین، الترغیب فی احیاء لیلتی العیدین، صفحه:373، حدیث:2۔

[2]... فیضانِ رمضان، صفحه:279، 280۔

[3]... مجمع الزوائد، کتاب الصیام، باب فیمن صام ...الخ، جلد:3، صفحه:322، حدیث:5102۔

فرمائي: دا روژې که د اختر نه پس پرله پسې ونيولے شي نو بيا پکښې هم څۀ باک نشته او بهتره دا ده چې پۀ هره هفته کښې دوه روژې او د اختر پۀ دويمه ورځ يوه روژه ونيسي او که پۀ ټوله مياشت کښې يې ونيسي نو نور هم مناسب معلوميږي- (1)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اختر په شپه په قافلو کښې د سفر ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! هر کال د اعتکاف سعادت حاصلوونکو خوش قسمته اسلامي ورونړو يو شميره او نور عاشقانِ رسول د خپلې او د ټولې دنيا د خلقو د اصلاح د کوشش په مقدسه جذبه کښې ډوب شوي په دې شپه په قافلو کښې سفر کوي.

تاسو هم د اختر په شپه په قافله کښې د سفر نيت وکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! ډير برکتونه به حاصل کړئ ۞ په قافله کښې فرض عُلومِ دِين ښودلے شي ۞ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سنتّو درس ورکولے شي ۞ د تهجد د نمانځه ادا کولو سعادت پکښې ميلاويږي ۞ د نيکۍ دعوت عام کولو موقع ميلاويږي ۞ د قافلې په برکت د دُعاګانو قبليدو ۞ د مشکلاتو ختميدو او ۞ د بيمارو نه د شفا حاصليدو هم ګڼ شمير واقعات دي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق رانصيب کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! يو څو ضروري اعلانونه واورئ: ۞ د هر اتوار په شپه اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مدني چينل باندې لائيو هفته واره مدني مذاکره فرمائي، د راتلونکي

[1]… سنی بهشتی زيور ، صفحه:347۔

اتوار په شپه به هم په مدني چينل باندې د ماسخوتن د نمونځ نه پس اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! هفته واره مدني مذاكره كيږي چې پكښې به اميرِ اهلسنت مولانا الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم وركوي. ټول ذمه داران او عاشقانِ رسول په دې مدني مذاكره كښې پخپله هم شركت وكړئ او نورو ته هم د دې دعوت وركړئ. ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان كوي، په راتلونكې هفته واره مَدَني مذاكره كښې به **د رمضان عبادتونه به څنګه قبليږي؟** رسالې اعلان كولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب وركړئ او څوك چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (***Share***) كړي! ❁ **اَلْوَداع ماهِ رمضان** لوستل جائز دي كه نهٔ؟ پهٔ دې باره كښې مكـتبة الـمدينه د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ناشنا فتوي او د نورو علمائے كرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم پهٔ فتوو مشتمله زبردسته رساله **الوداع ماهِ رمضان** چاپ كړې ده- دا رساله د مكـتبة الـمدينه نه پهٔ **12 روپے** پهٔ بيعه ترلاسه كيدے شي- ❁ داسې اختر دې څنګه تير كړے شي او پهٔ دې كښې دې څهٔ اعمال اوكړے شي پهٔ دې باره كښې هم يوه رساله **میٹھی عید اور میٹھی باتیں** چاپ كړے شوې ده- دا رساله هم پهٔ **15 روپے** پهٔ بيعه د مكـتبة الـمدينه د هرې څانګې نه ترلاسه كيدے شي-

❁ آئنده به هفته واره اجتماع د جُمعې په شپه كيږي ❁ د اختر د اولې ورځې نه به په فيضانِ مدينه فيصل آباد كښې، يعني د يكم شوال نه تر 7 شوال پورې به د 7 ورځو "**تصوّف كورس**" كيږي، دا كورس به د ركنِ شورٰی نګرانِ پاكستان مشاورت حاجي محمد شاهد عطاري په اُستاذئ كښې كيږي، ټول اسلامي ورونړه په دې كورس كښې شركت وكړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جَنَّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## مُعَانَقه کول د خوږ مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم سُنَّت دي

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم فرمان مبارک دے: د چا چې څوک ورور وي هغهٔ له پکار دي چې د خپل ورور سره مُعَانَقه اوکړي- (2)

اے د خوږ نبي صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم عاشقانو! غاړې ميلاوهلو ته مُعَانَقه وئيلے شي او مُعَانَقه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم سُنَّت دي- ❀ په مِرْاٰةُ الْمَنَاجِیْح کښې دي چې: د خوشحالۍ په موقع چا ته ورغاړه وتل سُنَّت عمل دے (3) خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم به څو څو کرته په صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم باندې شفقت کولو او هغوئي ته به يې د مُعَانَقې شرف عطا کولو- مثلاً ❀ د خيبر په موقع باندې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم حضرت جعفر رضی اللہ عنہ خپلې سينې مبارکې ته راجُخت کړو او په تندي باندې يې ښکل هم کړو- (4) ❀ يو ځل رسول الله صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم حضرت ابو ذَر غفاري رحمۃ اللہ علیہ راوبللو، کله چې هغوئي حاضر شول نو په شفقت سره يې هغوئي سينې ته راجُخت کړو- (5)

---

1... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-
2... كَنْزُ الْعُمَّال، كتاب:الفضائل، جلد:7، جز:13، صفحه:26، حديث:36235-
3... مرآة المناجيح، جلد:6، صفحه:359-
4... ابو داؤد، كتاب:الادب، باب: قبلة ما بين العينين، صفحه:813، حديث:5220-
5... ابو داؤد، كتاب:الادب، باب: قبلة ما بين العينين، صفحه:812، حديث:5214 خلاصةً-

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سُنّتیں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو(1) |

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لَولي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[2] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:669۔

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

---

1 ... القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ

---

1 . . . القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2 . . . الترغيب والترہيب، كتاب الذكر والدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

3 . . . مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة . . . الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

چي مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰہُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰہِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1 . . . تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵